

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اباډي اوونيزه
هفته‌نامه آبادی

ګڼه: ۲۷ | مسلسل نمبر: ۱۱۷ | پنجشنبه، د ربيع الاخر ۱۶مه، ۱۴۴۷هـ. ق کال

## اريانا افغان هوايي شرکت د وچو او تازه ميوو د صادراتو لپاره د هوايي کارګو اسانتياوې رامنځته کوي



۲ صفحه

## په کابل نړيوال هوايي ډګر کې د معياري انتظارخونې د جوړېدو چارې ۶۰ سلنه بشپړې شوې دي



۲مه صفحه

## نندارتونونه او پر اقتصادي وده يې اغيزې



۴مه صفحه



## سرليکنه

له اروپايي هېوادونو سره سوداګريزه راکړه ورکړه زياته شوې ده. اوسمهال د افغانستان او اروپايي هېوادونو ترمنځ سوداګري له کومې ستونزې پرته روانه ده او د دواړو لورو ترمنځ د سوداګرۍ کچه د تېر کال په پرتله زياته شوې ده. د ۲۰۲۵ کال په اتو مياشتو کې اروپايي هېوادونو ته ټولټال صادرات څه باندې ۱۷ ميليون ډالره و او له دغو هېوادونو واردات نږدې ۱۴۳ ميليون ډالرو ته رسېږي.

له دې څخه جوته شوه چې اسلامي امارت د ګاونډيو او سيمې هېوادونو ترڅنګ د نړۍ له نورو هېوادونو سره هم خپلې سوداګريزې اړيکې پراخې کړې او په دې برخه کې تر ډېره بريده بريالی هم دی. د دې يو اساسي لامل دادی چې اسلامي امارت بهرنۍ اقتصاد محوره سياست غوره کړی دی. د دې سياست پرمټ اسلامي امارت توانيدلی چې سوداګريزې او اقتصادي اړيکې له سياسي هغو جلا وساتي. موږ او تاسو ته معلومه ده چې نړيوالې اړيکې د اقتصادي پرمختګ په برخه کې مهم رول لوبوي. دا اړيکې د دولتونو، نړيوالو سازمانونو، سوداګريزو بنسټونو او نورو لورو ترمنځ د ډيپلوماسۍ، سوداګرۍ، پانګونې او نورو دې ته ورته برخو د تبادلې له لارې رامنځته کيږي. د دا ډول اړيکو پر مټ کولای شو د سوداګريزو تړونونو او اتحاديو له لارې د بازارونو پراختيا او لاسرسي ته وده ورکړو. بله دا چې د نړيوالو اړيکو له لارې، هېوادونه بهرنۍ مستقيمه پانګونه جذبولی شي. دا ډول پانګونه د زيربناوو، صنعتونو او کارموندنې په پراختيا کې مرسته کوي.

کله چې بهرنيو بازارونو ته لاسرسی وشي نو له دې سره د هېوادونو د اقتصاد اړوند سکټورونو په برخه کې اسانتياوې رامنځته کيږي او له دې برخو کلک ملاتړ د صادراتو د زياتوالي لامل ګرځي. صادرات د کورني صنعت او کاروبار د ګټې کچه لوړوي، د بازار نوسانات کموي، ځکه صادروونکی هېواد د نوساناتو په راکمېدو سره کولای شي بېلابېلو بازارونو ته لاسرسی ولري او د يو ځانګړي بازار د ټکني کېدو په صورت کې نورو بازارونو ته مخه وکړي. همدارنګه د صادراتو د پراختيا په صورت کې کورني توليدوونکي د توليد د ډېرولو له لارې د خپلو توليدي توکو لګښتونه راکموي او په دې کار سره په نړيوال بازار کې زياته ګټه ترلاسه کوي. صادرات د تقاضا يوه برخه ده، ځکه خو د صادراتو په زياتوالي سره په ټوله کې تقاضا هم زياتېږي او په پايله کې يې اقتصادي پرمختګ ته لار هوارېږي. د دې تر څنګ د صادراتو ډېروالی د يو هېواد د سوداګرۍ بيلانس برابر ساتي. د صادراتو اهميت ته په پام سره يو هېواد بايد د خپل اقتصادي پرمختګ په خاطر خپل صادرات زيات کړي.

اسلامي امارت د صادراتو اهميت ته په پاملرنې سره په دې برخه کې ګړندي ګامونه پورته کړي او توانېدلی چې د تېرو کلونو په پرتله د صادراتو کچه لوړه کړي. دغه صادرات چې د سوداګرۍ مهمه برخه جوړوي، نه يوازې د سيمې په کچه زياتوالی موندلی، دا دی اوس اروپايي بازارونو ته افغاني توليدات رسيدلي دي. په دې سره به له يوه لوري زموږ سوداګري پراختيا ومومي او له بل لوري به افغانستان په مشخصو هېوادونو له اتکاء څخه خلاصون پيدا کړي. هر څومره چې سوداګري پراختيا پيدا کوي، په هماغه اندازه به د افغانستان صنعت، کرنه او دې ته ورته نور سکټورونه پرمختګ کوي. د اقتصادي سکټورونو په پرمختګ سره به اقتصاد پياوړی او خپلواک شي.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

ابادي اوونیزه
هفته‌نامه آبادی


## اريانا افغان هوايي شرکت د وچو او تازه ميوو د صادراتو لپاره د هوايي کارګو اسانتياوې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د میزان میاشتې په ۱۶مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې د اړوندو وزارتونو او ادارو له مسوولینو سره د هوايي کارګو له



لارې بهرنيو هېوادونو ته د افغانستان د وچو او تازه ميوو د صادراتو په اړه غونډه ترسره شوه. په غونډه کې له بحث وروسته د اريانا افغان هوايي شرکت مسوولينو ته سپارښتنه وشوه چې اوسمهال له ګټې پرته په تمام شوي قيمت بهرنيو هېوادونو ته د وچو او تازه ميوو صادرات پيل او همدارنګه د يادو ميوو د صادراتو لپاره د چارتر الوتکو د پيدا کولو په اړه له هوايي کارګو شرکتونو سره خبرې وکړي.

همدا راز د اوږدمهال لپاره د دې ستونزې د اساسي حل په موخه د اريانا افغان هوايي شرکت مسوولينو ته دنده وسپارل شوه چې دوه کارګو الوتکې وپېري. د دې الوتکو د پېرودلو لپاره به اسلامي امارت بوديجه ورته ځانګړې کړي. د سوداګرۍ او پانګونې خونې مسوولينو ته هم دنده وسپارل شوه چې له سوداګرو سره د هوايي کارګو شرکت د رامنځته کولو په اړه مجلسونه وکړي.

د يادو ادارو له استازو وغوښتل شول چې خپل راپورونه په لنډ وخت کې د رياست‌الوزراء اقتصادي معاونيت له مقام سره شريک کړي.

## په کابل نړيوال هوايي ډګر کې د معياري انتظارخونې د جوړېدو چارې ۶۰ سلنه بشپړې شوې دي

د رياست‌الوزراء اقتصادي معاونيت تخنيکي ټيم د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د ميزان مياشتې په شپږمه نېټه په کابل نړيوال هوايي ډګر کې د معياري انتظارخونې د جوړېدو چارې له نږدې وڅارلې. د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت مسوولينو ووېل، د پلان مطابق يې د وخت او ټولو معيارونو په پام کې نيولو سره د دې پروژې چارې پيل کړې، چې



اوسمهال يې چارې ۶۰ سلنه بشپړې شوې دي. هغوی زياته کړه، قراردادي شرکت ژمن دی چې په ټاکلي وخت يې پاتې چارې هم بشپړې کړي.

د اقتصادي معاونيت تخنيکي ټيم د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت او قراردادي شرکت له مسوولينو مننه وکړه، چې دغه انتظارخونې په چارو کې يې ټول معيارونه په پام کې نيولي دي. هغوی وويل، د دې انتظارخونې د چارو په بشپړېدو سره به په کابل نړيوال هوايي ډګر کې مسافرو ته زياتې اسانتياوې برابرې شي.

دغه انتظارخونه په يو وخت کې د ۶۰۰ مسافرو او پارکينګ يې په يو وخت کې د ۳۸۰ موټرو د ځايولو ظرفيت او پردې سربېره مسجد، رستورانټ، روغتون، تمځايونه، لیفټونه او برېښنايي زينې، وي آی پي سالون او ټولې اړينې اسانتياوې لري. پر دغه پروژه ۳۲۳ ميليون افغانۍ پانګونه کېږي.

د يادونې وړ ده چې د دغه انتظارخونې د جوړېدو چارې د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د ۱۴۰۳ لمريز کال د اسد مياشتې په څلورمه نېټه پيل شوې وې. د قرارداد له مخې ددغې انتظار خونې د جوړېدو له پاره ۱۸ مياشتې وخت په پام کې نيول شوی و.



ابادي

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

# اخبار اقتصادی هفته

## فراهم شدن زمینه کار برای نزدیک به ۱۳ هزار بازگشته در هرات

مسوولان محلی در هرات می‌گویند که در هفته‌های اخیر، نزدیک به سیزده هزار مهاجر افغان اخراج‌شده از ایران، در شهرک صنعتی این ولایت مشغول به کار شده‌اند. برخی از صنعت‌کاران در هرات اطمینان می‌دهند که با جذب این مهاجران، حقوق آنان و تمام کارمندان خود را تا سی درصد افزایش خواهند داد. محمد ناصر امین، رییس اتاق صنایع و معادن هرات، گفت: «ما دوازده هزار و شش‌صد نفر از مهاجران اخراج‌شده از ایران را به کارخانه‌های شهرک صنعتی معرفی کرده‌ایم و آنان اکنون مشغول به کار شده اند. برخی کارخانه‌ها خودشان در مرز اسلام‌قلعه اعلام نیاز به نیروی کار کرده بودند؛ بعضی‌ها ۳۰۰ نفر، برخی ۲۰۰ نفر و برخی ۱۰۰ کارمند جذب کرده‌اند. اگر این آمار را با هم جمع بزنیم، شمار کارگران جذب‌شده در شهرک صنعتی بسیار زیاد است.» نوراحمد اسلام‌جار، والی هرات، گفت: «اشتغال جوانان ما به معنای کاهش جرایم، دزدی‌ها، اعتیاد، بی‌خانمانی و مهاجرت غیرقانونی است.» در همین حال، شماری از مهاجران اخراج‌شده از ایران می‌گویند خوشحال‌اند که پس از سال‌ها مهاجرت و دشواری، اکنون در کشور خود مشغول کار شده‌اند. غلام سعید رسولی، کارمند یک شرکت صنعتی در هرات، گفت: «وقتی در ایران بودیم می‌گفتند در افغانستان کار و اشتغال نیست و بیکاری زیاد است؛ اما وقتی اینجا آمدم، دیدم که چنین نیست. در اینجا حدود ۲۰۰ تا ۲۲۰ نفر کار می‌کنند و وضعیت کاری خوب است.» روند جذب افغان‌های اخراج شده از ایران در شهرک صنعتی هرات در حالی ادامه دارد که بر اساس آمار مقام‌های محلی هرات، در بیش از سه ماه گذشته، بیش از یک میلیون و یک‌صد هزار مهاجر افغان که از سوی دولت ایران اخراج شده‌اند، از طریق مرز اسلام‌قلعه وارد کشور شده‌اند. بیشتر این مهاجران می گویند که همه دارایی‌های‌شان در ایران باقی مانده و آنان دست خالی به کشور بازگشته‌اند.

## وزارت معادن: ۷۱ کیلومتر از مسیر پروژه تاپی آماده نصب لوله‌های گاز شد

در میان امیدها برای توسعه اقتصادی و همکاری‌های منطقه‌ای، وزارت معادن و پترولیم از پیشرفت چشمگیر در پروژه تاپی خبر داده است. بر بنیاد اطلاعات این وزارت، تاکنون ۷۱ کیلومتر از مسیر لوله‌های گاز در داخل خاک کشور برای نصب آماده شده و حدود ۱۰۰ کیلومتر از مسیر نیز سروی و نقشه‌برداری شده است. سخن‌گوی وزارت معادن و پترولیم، همچنین افزود که کارهای اجرایی این پروژه با جدیت و سرعت ادامه دارد. همایون افغان، سخن گوی وزارت معادن و پترولیم، گفت: «۶۸ کیلو متر سرک به راه انداخته و دیگر پایپ لاین‌ها در آینده نزدیک به ساحه منتقل خواهد شد.» اما برخی از آگاهان، پروژه تاپی را در تقویت همکاری‌های منطقه‌یی و صلح، افزایش جایگاه ژیوپولیتیکی افغانستان، اشتغال‌زایی و توسعه محلی و درآمد اقتصادی و ترانزیتی مهم عنوان می‌کنند. آذرخش حافظی، رییس پیشین اتاق تجارت و سرمایه گذاری، می‌گوید: «پروژه تاپی یکی از پروژه‌های مهم منطقوی است، نه‌تنها در سطح افغانستان و کشورهای شریک، بلکه در مجموع برای کشورهای جهان اهمیت دارد. این پروژه نه‌تنها عاید اقتصادی برای افغانستان دارد، بلکه جایگاه ژیواکانومیک، ژیوپولیتیک و استراتیژیک کشور را نیز بلند می‌برد و نقش افغانستان را در تصمیم‌های منطقه‌ای پررنگ‌تر می‌سازد.» وزیران خارجه افغانستان و ترکمنستان نیز در تماس تلیفونی، ضمن بررسی روابط سیاسی و اقتصادی میان دو کشور، روند اجرای پروژه تاپی را مثبت ارزیابی کردند و بر گسترش همکاری‌های عملی در بخش‌های مختلف در آینده نزدیک تأکید ورزیدند. ضیاء احمد تکل، رییس روابط عامه وزارت خارجه، گفت: «در این گفتگو، دو وزیر درباره روابط سیاسی و اقتصادی میان افغانستان و ترکمنستان بحث و تبادل نظر کردند. کار جاری پروژه تاپی را مثبت ارزیابی کرده و متعهد شدند که در آینده نزدیک همکاری های عملی را در زمینه‌های مختلف گسترش دهند.» پروژه تاپی که گاز ترکمنستان را از طریق افغانستان به پاکستان و هند انتقال می‌دهد، یکی از طرح‌های مهم اقتصادی و منطقه‌ای به شمار می‌رود. کار عملی این پروژه پس از سال‌ها توقف، در ۲۱ سنبله ۱۴۰۳ با حضور مقام‌های بلندپایه افغانستان و ترکمنستان از سر گرفته شد.

## د برېښنا د لويو پروژو په اړه له ترکمنستاني پلاوي سره ګډې ناستې پیل شوې

د افغانستان برېښنا شرکت وايي، له ترکمنستاني پلاوي سره د (TAP) پروژې، د هرات د نورالجهاد سب ستېشن ته د ۲۲۰ کيلوولټه برېښنا د لېږد او د برېښنا د نورو لويو پروژو په اړه د لوړپوړو چارواکو په کچه خبرې اترې پيل شوي دي. په دې ناسته کې د (TAP) پروژې، دنورالجهاد سب‌ستېشن ته د ۲۲۰ کيلوولټ برېښنا د رالېږد پروژې، د بادغيس بالامرغاب ولسوالۍ او فارياب ولايت سرحدي ولسواليو په څېر بې برېښنا سيمو ته د پياوړې برېښنا لېږد پروژو، تخنيکي ارزونو اړوند راټولو شوو معلوماتو په اړه دوه اړخيزې خبرې وشوې.



# نندارتونونه
## او پر اقتصادي وده يې اغيزې

### سريزه

د افغانستان د کرنې او مالدارۍ ۳۳م نندارتون سږ کال «پر کرنې او مالدارۍ پانگونه، د هېواد د اقتصادي ودې او پرمختگ تر ټولو باوري لار» په شعار سره، د اسلامي امارت د مسوولينو په حضور کې د کابل په بادام باغ کې پرانيستل شو. د کابل د بادام باغ په ۳۳م نندارتون کې، د هېواد له بېلابېلو ولايتونو راغلو غرفه لرونکو د خپلې کرنې، مالدارۍ او لاسي صنايعو توليدات د څلورو ورځو لپاره په ۲۶۳ غرفو کې ننداري ته وړاندې کړل. افغانستان يو کرنيز هېواد دی او کرنه په دې هېواد کې په عنعنوي توگه د اقتصادي پراختيا له پاره يو باالقوه شاخص گڼل کېږي. د افغانستان د کليوالي سيمو خلک له پېړيو راهيسې تر ډېره په کروندو کې په کار بوخت دي او تر پنځوس سلنه زياتې کورنۍ د خپل ژوند لومړنۍ اړتياوې د کرنې له سکتور څخه پوره کوي. دغه سکتور د خلکو له پاره ۴۰ سلنه کاري فرصتونه برابروي چې د کاري زمينې په برابرېدو سره د خلکو زياتې اقتصادي ستونزې هوارې او په عوايدو کې يې لوړوالی راځي. افغانستان بېلا بېل کرنيز محصولات لري. د کيفيت او کميت له پلوه بډه دي. تازه ميوې، وچې ميوې، سبزۍ او دې ته ورته نور محصولات شته چې ځينې يې نړيوال شهرت لري. خو په افغانستان کې اشغال د دې مخه نيولې وه چې په کور د ننه او بهر کې دې محصولاتو ته بازار موندل شي. د اسلامي امارت په راتگ سره د کرنې په سکتور کې پرمختگونه شوي او د کرنيزو محصولاتو له پاره د بازار موندلو په موخه په کور د ننه او بهر کې نندارتونونه جوړ شوي دي. هسې خو ډېر نندارتونونه جوړ شوي دي، خو د کرنيزو محصولاتو پسرلنی او د امام ابو حنيفه رح په نوم په کابل کې نړيوال نندارتون يې د بيلگې په ډول يادولی شو. دا چې نندارتونونه د سوداگرۍ او په ځانگړي ډول اقتصادي وده کې څومره اغيزناک تماميدای شي، لاندې يې په گډه لولو.

### نندارتونونه او د اقتصاد په پرمختگ کې يې ونډه

د تجارتي، صنعتي او کرنيزو محصولاتو نندارتونونه د کورنيو توليداتو په وده او پرمختگ کې مهمه ونډه لري. دغه اغيز د افغانستان په څير هېوادونو کې زيات ترسترگو کېږي، ځکه د داسې هېوادونو اقتصاد تر ډېره بريده پر کرنې، لاسي صنايعو او کوچنيو توليدي واحدونو ولاړ وي. په داسې هېوادونو کې نندارتونونه د کورنيو توليداتو لپاره يو پليټ فارم برابروي، ترڅو سيمه ييز توليدات نړيوالو او کورنيو بازارونو ته ورسېږي. په دې سره د صادراتو کچه لوړېږي او سوداگري پراختيا مومي. د نندارتونونو بله گټه داده چې له دې لارې توليدوونکي هڅه کوي څو د خپلو محصولاتو کيفيت لوړ او د سيالۍ وړ يې وگرځوي. د نورو توليدوونکو محصولاتو ليدل او د مشتريانو نظرونو ترلاسه کول د نوښت او پرمختگ لامل گرځي. د نندارتونونو په جوړولو سره د نوې ټکنالوژۍ، توليدي ميتودونو او مديريتي مهارتونو د تبادلې فرصت رامنځته کېږي او له دې سره بيا د کورنيو توليداتو موثريت او توليد زياتېږي. څومره چې د کورنيو توليداتو کچه لوړېږي په هماغه اندازه د خلکو له پاره کاري فرصتونه زياتېږي او ډېری خلک په بېلا بېلو برخو کې پر کار مصروفېږي چې دا په خپله د اقتصاد په وده کې اغيزناک تماميږي. په کومه اندازه چې نندارتونونه د کرنيزو محصولاتو په بازار موندلو کې گټور تماميږي، په هماغه کچه د صنعتي توليداتو له پاره هم موثر تماميدای شي. نړيوال بانک د ۲۰۲۳ ميلادي کال په يوه راپور کې ويلي چې د کرنيزو محصولاتو صادرات د نندارتونونو له امله



زيات شـــوي، چې دا د کورني توليد پر وده مستقيمه اغېزه لري. له دې څخه جوتيږي چې اسلامي امارت په کور د ننه او بهر کې د کرنيزو محصولاتو په ګډون د بېلا بېلو توليداتو له پاره نندارتونونه جوړ کړي او پايله يې داده چې اوسمهال افغاني توليداتو او محصولاتو ته په نړيوال بازار کې تقاضا زياته شوې ده. همدا لامل دی چې کال په کال د هېواد د صادراتو کچه لوړيږي. له دې سره به ســـوداګرۍ نوره هم پراخه او په ټوله کې به اقتصادي وده لوړه او ګړندۍ شي. ځکـــه کوم نړيوال نندارتونونه چې په کور د ننه او بهر کې د اسلامـــي امارت له لوري جوړ شـــوي، پـــه پايله کې يې د ميليونونو ډالرو په ارزښـــت تړونونه لاسليک شوي دي. دا خپله د دې ښـــکارندويي کوي چـــې نندارتونونه د توکو او محصولاتو په بازار موندنه کې څومره اهميت لري.

### پايله

له پورته مطالبو څخه دا په ډاګه شـــوه چـــې نندارتونونه د اقتصـــادي بازار په پراختيا کې ډيـــر زيات اهميت لري. د نندارتونونو په جوړېدو سره د هېواد په صادراتو کې زياتوالی راځي، ځکـــه د نندارتونونو له لارې توليدات او محصولات پانګوالو، سوداګرو او عامو خلکو ته معرفي کېږي او دا د دې لامل ګرځي چې د يـــادو توليداتو او محصولاتو له پار بازار پيدا او په لوړه کچه وپلورل شي. په دې سره هېواد ته په زياته اندازه بهرني اســـعار راځـــي او محصولات نړيوال شـــهرت پيدا کوي. دا ډول نندارتونونه نـــه يوازې د کرنې ســـکتور ته وده ورکوي، بلکې د بزګرانو د ملاتړ او هڅونې لپاره هم يوه اغېزناکه وسيله ده. افغان بزګران به په دې توګه وکولی شي چې خپل محصـــولات په نړيوالو بازارونو کـــې نندارې ته وړاندې کړي او د افغانســـتان د اقتصادي پرمختـــګ په برخه کې رغنـــده رول ولوبوي. د بادام باغ د کرنې او مالـــدارۍ ۳۳م نندارتون هم په همدې موخه جوړ شـــوی و، څو د کرنيزو او مالدارۍ محصولاتو له پاره بازار موندنه وشي.



## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابـــل په شهزاده ســـرای کې د افغانی پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ۶۶,۴۰؋ | ۶۶,۴۵؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلدارې | ۲۲۵؋ | ۲۲۵؋ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ۰,۶۰؋ | ۰,۶۱؋ |
| ۱ | اروپايي يورو | ۷۷,۱۰؋ | ۷۷,۱۶؋ |
| ۱ | روسي روبل | ۰,۸۱؋ | ۰,۸۱؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلدارې | ۷۴۸؋ | ۷۴۸؋ |
| ۱ | انګليسي پونډ | ۸۸,۸۸؋ | ۸۸,۹۵؋ |
| ۱ | سعودي ريال | ۱۷,۷۰؋ | ۱۷,۷۲؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۸,۰۸؋ | ۱۸,۰۹؋ |
| ۱ | چيني ين | ۹,۳۳؋ | ۹,۳۳؋ |

